د افغانستان اسلامي امارت

د کورنیو چارو وزارت

لومړی معاونیت

د پکتیا ولایت مقام

ددفتر ریاست

اجرائیه مدیریت

ګڼه : ۱۹۳ / ۱۴۳

نیټه : ۳۰ / ۴ / ۱۴۴۷

| احکام | وړاندیز |
| --- | --- |

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم مقام ته !**

**السلام وعلیکم ورحمة الله وبرکاته !**

**موضوع : فرضي کرښې ته څیرمه پکتیا ډنډه پټان تجارتي بندر لپاره د درملو او خوړو مجهز لابرتوار تهیه او خریداري او لومړیتوب په هکله .**

لکه څرنګه چې عالي مقام ته بهتره معلوم ده ، د ډنډې پټان تجارتي بندر چې پکتیا ولایت کې فرضي کرښې ته څیرمه اقتصادي ،استراتیژیک او سوداګریز موقعیت لري د هیواد په کچه یو له مهمو اقتصادي او سوداګریزو بنادرو څخه ګڼل کیږي او دګاونډي هیواد کراچي بندر سره ډیره نږدې فاصله لري او لاره یې هم صعب العبور نده او ډیره اقتصادي لاره ده ، چې د هیواد په کچه د نورو بنادرو په پرتله پداسې حال کې چې د ډنډې پټان بندر کافي عواید هم لري کوم معیاري سهولتونه او امکانات چې اړین دي خصوصاً د درملو او خوړو معیاري لابرتوار یاد بندر کې شتون نلري او نوموړی مشکل د جنوب ختیځ زون په سطحه چې پکتیا ولایت یې مرکز ده په یاده برخه کې اشد اړتیا ده ، او د درملو او خوړو مجهز لابرتوار د نشتون له امله د صادراتو او وارداتو په برخه کې سوداګر او خصوصی سکتور له ډیرو ستونزو سره مخامخ دي چې یاده موضوع د پکتیا اقتصاد ریاست تر مشرۍ د خصوصي سکتور پراختیا او اقتصادي ودې همغږۍ په ناسته کې چې ۱۴۴۷/۳/۲۲ ه ق ۱۴۰۴/٦/۲۴ ه ش مطابق ترسره شوی وه هم د یاد لابرتوار د اړتیا په برخه کې د ملي سوداګرو او خصوصي سکتور د غوښتنې پر اساس بحث ترسره شوې او ولایت مقام څخه یې په اړه لوړو محترمو مقاماتو څخه د همکارۍ غوښتنه شوي.

د معلوماتو پر بنسټ دا چې د مرکز په کچه لوړو محترمو مقاماتو په لزوم دید په پلان کې ده چې د هیواد په سطحه تجارتي او ترانزیتي بنادرو ته د درملو او خوړو معیاري لابرتوارونه تهیه او خریداري او په اختیار کې ورکړل شي او پروسه یې هم عملاً په جریان کې ده نو پدې توګه د موضوع په اړه ستاسو عالي مقام ته په ډیر درنښت وړاندیز کوو تر څو پکتیا ډنډه پټان تجارتي بندر ته د خوړو او درملو معیاري لابرتوار د تهیه او تدارک او منظوریدو په تړاو چې اشد اړتیا ده اړونده محترمو مراجعو ته څرنګه چې لازم ګڼئ هدایت به وفرمایې .

له ستاسو قدرمن مقام له پاملرنې ،شفقت او همکارۍ څخه مو په اړه منندوی یو .

**والسلام**

**الحاج مهرالله حماد**

**د پکتیا ولایت والي**

۳۰۱۲۰

۱۴۴۷/۴/۴  ۹۶۸